# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


سپین کانوال

۱۴ اگست ۲۰۱۶

## سوله څه ته وايي؟

(د بهرنیو منابعو څخه ژباړه او لنډیز)

سوله ډيرتعريفونه لري. کيدای شي چي ځينو خلکو ته سوله د ډلو او دولتونو تر منځ د جګړو، شخړو او اخ او ډب د نه شتون يا په بل عبارت د ډز بندی په معنا ګنې. خو که چيرې په يو هيواد کې پورته يادې شوې ستونزې شتون هم و نه لري او خلک خپلو روا حقوقو ته لاسرسی و نه لري او عدالت شتون و نه لري او په يوه ټولنه کې عدالت حاکم نه وي، نو د خلکو حقو به ترورل کيږي چي په دې صورت به خلک به بيا هم اړ شي چي د خپلو حقوق د تر لاسه کولو لپاره لومړی د قانون په چوکاټ کې خپلې غوښتنې مطرح کړي او که چيرې د قانوني لارې دا کار عملي نه شي نو د حقوقو څخه محروم خلک به په هره لاره چي وي د خپلو روا حقوقونو تر لاسه کولو لپاره بله لاره چاره غوره کوي که هغه لاره نرمه وي او يا ګرمه. داسې باور کيږي چي سوله هغه مهال شتون لري چي په ټولنه کې لاندينی حالت حاکم وي:

- خلک، د ډار او يا تاوتريخوالي د ګواښ پرته په خونديتوب کې ژوند کوي، يعني د ټولنې هر غړی کولای چي په ډير ډاډ سره د ژوند ټولې چارې له هر ډول ډار پرته سرته ورسولای شي. هيڅکله د تاوتريخوالي او ظلم هيڅ ډول په قانون کې د منلو وړ نه وي يا هيڅ ناروا عمل د بخښنې وړ نه وي.
- قانون د ټولو پر وړاندې يو شان پلې کيږي، خلک په قضايي سيستم باندې باور لري، او د خلکو حقونه په عادلانه او اغيزمنه توګه د قضايي/عدلي او امنيتي ادارو له لورې په خوندي توګه ساتل کيږي.
- هر څوک کولای شي چي په سياسي او سياسي پريکړو لکه د قوانينو، مقرراتو او پاليسيو جوړولو کې ګډون وکړي. حکومت خلکو ته حساب ورکوي او د ملت د يو خدمتګار په توګه عمل کوي نه د يو حاکم په توګه. البته په توتاليتر نظامونو او سيستمونو کې حکومت هيڅ چا ته ځواب ويونکی نه وي، خو برخلاف جمهوري نظامونه د پورته يادو ځانګړنو خاوند وي.
- هر څوک بنستيزو اړتياو لکه خوړو، پاکو اوبو، سرپناه، ښووني او روزنې، روغتيا پاملرنې او د ژوند سپيڅلي چاپيريال ته د جنس، قوم، ژبې، ملت، مذهب او نژاد په پام کې نيولو پرته يو شان لاسرسی لري. له شک پرته دا کار هغه مهال شونی دی چي په ټولنه يو عادلانه نظام حاکم وي. ټولې فيصلې د قانون له مخې او د خلکو له خوا مطرح شوې قانون په چوکاټ کې تر سره کيږي.

- خلک د هغوی د ځانګړي هویت په پام کې نیولو پرته د کار او ژوند، یو شان فرصتونه لري. هغوی ته د هغوی د وړتیا سره سم د کار شرایط برابریږي او د هیواد په هره برخه یا سیمه کې یې چې خوښه وي سکونت اختیارولای شي او د هر ډول ډول ګواښ پرته خپل عادي ژوند ته ادامه ورکولای شي.

د پورته یادو شوو حالاتو شتون د عدالت په رڼا کې شونی دی کوم چې په خپل وار د رښتوني سولې ضمانت کوي او لاره ور ته هواروي.

## سوله د مثبت او منفی حالت په بڼه را څرګندیږي:

لکه چې پورته ورته اشاره وشو ځیني خلک په ساده باور د تاوتریخوالي او جګړې نه شتون ته سوله وایي. د سولې دې ډول ته منفي سوله وايي. منفي سوله د هغه یو نامطلوب حالت ښکارندویي کوي، چې نه واقع کیږي، لکه د بیلګې په توګه د اوربند له امله جګړه درول شوې ده، حتی که چیرې د نور تاوتریخوالي د خپریدو امکان لا تر اوسه هم شتون ولري.

کله چې د تاوتریخوالي او بې عدالتی هره بڼه – که هغه مستقیمه وي یا کلتوري – شتون و نه لري، نو دې حالت ته مثبته سوله وايي. د مثبتې سولې موخه د ټولني د بیلا بیلو ډلو، لکه ښځو او نارینه وو، ځوانانو او سپین ږیرو، تر منځ او همدارنګه د ښاري او کلیوالي سیمو د خلکو ترمنځ د واک توازن رامنځته کول دي. مثبته سوله د هغې ټولنیزې سولې په معنا ده چې د ټولني ټول غړي سرچینو ته لاسرسي و لري او و کولای شي چې خپلې لومړنی بشري اړتیاوې پوره کړي. سوله د هر ډول جګړې یا شخړې د بشپړ نشتون په معنا نه ده، ځکه چې جګړه یا شخړه زموږ د ژوند یوه طبیعي او اړینه برخه ده. د هغې سمه معنا دا ده چې جګړې یا شخړې، خپل ځای سوله ایزو لارو چارو ته پریږدي او له درناوي له لارې د ټولو ښکیلو وګړو روا (قانوني) اړتیاوو او ګټو ته د عدالت په رڼا کې پاملرنه و شي. له همدې امله، سوله هغه بهیر ته ویل کیږي چې شخړې (جګړې) د سوله ایزو لارو له لارې د خلکو تر منځ اړیکې بیا رامنځته کړي، د خلکو دردونو ته مرهم وګرځي، پخلاینې ته پاملرنه وکړي او داسي ټولنیز سیستمونه رامنځته کړي چې د ټول نفوس اړتیاوې پوره او د شخړو د حل لپاره رغنده کار تر سره کړي. دا یو اوږد بهیر دی چې پای ته نه رسیږي.

څرنګه سوله راوستل کیږي؟

د سولې راوستل یو مفهوم دی چې په هغه کې بیلابیل بهیرونه، کړنلارې او پړاوونو چې اړ دي ویجاړونکې شخړې په پایښت لرونکو اړیکو بدلې کړي هم شامل او تلپاته و ساتي. دا اصطلاح په همدې توګه په پراخه کچه یو لړ فعالیتونو ته وایي چې د سولې د رسمي تړونونو څخه د مخه او وروسته تر سره کیږي. د دې پوهې په رڼا کې، سولې ته نه یوازې د یو پړاو یا حالت، بلکه د بهیر په سترګه کتل کیږي. سوله داسي یو بهیر دی چې باید یو څوک په کې بوخت شي، نه دا چې یو داسي موخه و ګڼل شي چې یو څوک ورته و رسیږي.

د سولې راوستل د ډیرو بیلابیلو ښکیلو اړخونو لکه حکومتونو، مذهبي سازمانونو، مدني ټولنو، دودیزو مشرانو او جوړښتونو، رسنیو، او سوداګریزو ټولنو دنده ګڼل کیږي: دا د ټولني په ټولو، لکه علمي بنسټونه او حکومت، په ښوونځیو او سوداګریزو مرکزونو، او هر کلي او ښار کې د ټولنیزو مرکزونو په سطحو کار غواړي. د سولې راوستل د ارزښتونو، د اړیکو د مهارتونو، تحلیلي چوکاټونو، او ټولنیزو بهیرونو یوه ټولګه ده.

د سولې د راوستلو لپاره د خلکو او د هغوی د چاپیریال تر منځ د رغنده اړیکو جوړولو مهارتونو ته اړتیا لري. په داسي حال کې چې جګړې د ټولو اړیکو یوه طبیعي برخه جوړوي، خلک کولای شي هغه مهارتونو سره ځان بلد او باور پرې پیدا کړي د کومو لارو څخه په استفاده له نورو سره اړیکه جوړه کړي تر څو د ژوند په څرنګوالي کې بڼه

والي راولي. اړيکي او پوهاوی، پوښتني او ځوابونه، منځګړيتوب او خبرو اترو مهارتونه د سولي د راوستلو لپاره د بهيرونو اصلي برخه جوړوي.

د سولي راوستل په جګړه ځپلو هيوادونو کي د پايښت لرونکي بشري امنيت او عادلانه پرمختګ د رامنځته کولو بنسټ ګڼل کيږي.

## د سولي د راوستلو بهيرونه:

- د تاوتريخوالي پرته د شخړو سمبالول: د داسي يو ملاتړ اړتيا شته چي د يوې ډلي د ځواک د زياتولو له لارې د هغوی ستونزو د حل لاره پيدا شي، او د اړينو شرايطو له لارې اړيکو ته بدلون ور کړل شي.
- د مستقيم تاوتريخوالي کمول: هڅې بايد و شي ترڅو مستقيم تاوتريخوالي لږ شي. دا کار بايد عدالت ته د سرغړونکو (عاملينو) د را کش کولو، قربانيانو ته د هوساينې برابرولو او تاوتريخوالي د مخنيوي، او د سولي د راوستلو فعاليتونو ته يو خوندي چاپيريال برابرولو، کوم چي د تاوتريخوالي اصلي لاملونه ګڼل کيږي، د پام کولو له لارې تر سره شي.
- په اړيکو کي بدلون راوستل: داسي هڅو ته اړتيا ده چي موخه يي د داسي بهيرونو رامنځته کول وي چي دردونو ته درمل وګرځي، شخړو ته د پای ټکی کيږدي او عدالت رامنځته کړي، تر څو د خلکو او هغوی په اړيکو کي بدلون راولي. دا بهيرونه خلکو ته فرصتونه ورکوي چي د اوږدې مودې لپاره، پايښت لرونکي حل لارې رامنځته او د هغوی اړتياوو ته پاملرنه وکړي.
- د وړتيا لوړول: هغه فعاليتونه، چي موخه يي يوازې د داسي جوړښتونو رامنځته کول وي چي د سولي د يوه پايښت لرونکي کلتور مخکښ جوړ شي، بايد پلان يي جوړ او پلي شي. نو دا بيا پر دې سربيره د خلکو لپاره ممکنه ده چي د اوږد مهالي سولي راوستلو د هڅو په اړه فکر و کړي تر څو اړتياوو او حقونو ته ځواب و وايي، د ښووني او روزني، پرمختګ، پوځي بدلون او تحول، څيړني او ارزوني له لارې د تاوتريخوالي د مخنيوي شته وړتيا لوړې کړي.

## د سولي د راوستلو لپاره غوره او بنسټيز اصول:

- ارزښتونو ته پام کول: رواني، شخصي او سازماني غبرګون ته پام کول چي د سولي د راوستلو پروګرامونه د هغوی د ارزښتونو سره څه ډول تړاو لري.
- بنسټيزو اړتياوو او حقونو ته پام کول: د سولي راوستل د خلکو سره مرسته کوي تر څو هغوی لومړنيو اړتياوو او حقوقو ته لاسرسی ولري په داسي حال کي چي د نورو اړتيا او حقونه هم ومني.
- د جګړي او تاوتريخوالي شننه (تحليل): د جګړي او تاوتريخوالي د لاملونو او ريښو دوامداره تحليل ته اړتيا ده، تر څو د سولي لپاره مناسبي لارې چارې او منابع په ګوته شي.

د اوږده مهال پلان جوړول: د سولي راوستل کيدای شي د لنډې مودې د پلانونو او يا فعاليتونو له لارې تر سره شي، خو ټولنيز بدلون راوستل بنايي کلونو او لسيزې ونيسي.

- د ټولو سيستمونو بدلون: د سولي راوستل د شخصي، اړيکو، کلتوري، او جوړښتيزو سطحو او د نظام او سيستم بنې ته ته بدلون ورکوي.
- د همغږی کړنلارې او ښکيل اړخونه: بيلابيل ښکيل اړخونه بايد خپلي کړنلارې د خپل مسئوليت، حساب ورکولو، د مقابل لورې معقولو او روا غوښتنو، ځان تيريدني او انعطاف او هر اخيز ګډون له پلوه د سولي د راوستلو په لار کي همغږي کړي.

- پیژندل او د څواک جوړول: خلک باید د نورو سره د د ګډو هلو ځلو او همکاریو پر بنسټ د خپلو انساني اړتیاوو د پوره کولو لپاره د نه تاوتریخوالي خپل څواک څخه ښه پوهاوی و لري.
- ښکیلو اړخونو او خلکو ته مناسب واک ور کول: د سولې راوستل باید په مشارکت او خپل ځاني ټینګ هوډ ولاړې وي چې کولای شي پیاوړې او پراخه شي او نورې مناسبې هڅې باید تر سره شي چې د نورو د نظر پر اوریدلو او څواکمن کولو پر بنسټ ولاړې وي.